انجنیر عبدالقادر مسعود

# ښاغلي عبدالباري جهاني نوښتګر اومخکښ شاعر اوليکوال

شعر هغه هنري اثر دی چې ښکلي او په زړه پوري کلام ته او خوږوترکيبونو اوظاهري فورم اوشکل ته اړتيا لري . د شعر ښکلا دشعر په معنا، کلام اواحساس کې او دشعر دفورم اوشکل په وسيله انعکاس مومي . شاعر بايدخپل شعري مطلب داسي تنظيم اوترتيب کړي چې شعر يې معناولري او يو ښکلې فورم او شکل پيدا کړي . دی بايدله هغوترکيبي عناصرونه لکه: احساس،عاطفه، تخيل، وزن،کلام اودټولنې داسی نورو پديدو نه ګټه واخلي، چې شعر يې معنا پيداکړي اود ده شعر ته يو ښکلې فورم اوشکل ور په برخه شي ،او د ده دشعر اساسي معنا،مفهوم اوموضوع روښانه شي او دی خپل هدف ،موخه اوپيغام په خپل شعر کې خلکو او ټولنې ته بيان کړي . اساسي اصل د يو شعرپه معنا کې نغښتې دی،جانبي موضوع يې فورم او شکل دی



زموږ هيواد د لوړو شاعرانو، اديبانو او ليکوالانو ټاټوبې دی ، چې زموږ خلک اوهيوادوال دشعر اوادب سره له پيړيو پيړيورا هيسې يوه ځانګړې مينه اوعلاقه لري .
زموږ په ټولنه کې د شعر هنرته دشاعرانو، اديبانواوليکوالانو له خوا ډيره پاملرنه شوې ده . زموږ زياتره شاعران د خپل ښکلي او په زړه پوري کلام ، فهم اوادراک اوسپيڅلي احساساتواو عواطفوپه وسيله ټولنيز اهداف او دټولنې غوښتنې په ډيرانساني توګه بيان کړې دي . دوی په خپلو آثارو کې خپل دردونه او دټولنې ناخوالې اودخلکو اوهيواد سره خپله مينه او خلوص په ډير عالي شکل انعکاسوي . دوی دخپل علم اوپوهې په وسيله دخپلې ټولنې ستونزې او دهيوادوالو خوږې اوترخې ته پاملرنهکړې ده ، او دحل لاره يې ورښوودلې ده . د ښاغلي عبدالباري جهاني له نامه سره زموږ هيوادوال او په تيره بيا زموږ پښتانه آشنا دي، او ورباندې وياړي او د قدر په سترګو ورته ګوري . دی دپښتنود اوسنيو شاعرانو په منځ کې هغه ځليدونکې ستورې دی ، چې دخپلو شعرونو په وسيله يې پښتو ادب تود اوځلانده ساتلې دی جهاني صيب زموږ دهيواد يو تکړه، وتلې ، پيژندل شوې پياوړې اوخوږ ژبې شاعر، اديب،ليکوال، وياند، ژباړونکې اوژورناليست دی
دی د خدای بخښلي حاجي عبدالاحمدخان زوی دی چې په(١٣٢٧ ) لمريز کال کې دکندهار په ښار کې زيږيدلې دی .لومړنۍ زده کړې يې د کندهار په ښار کې دميرويس نيکه په ليسه کې سر ته رسولې دي، او بياپه١٩٧٢کال کې دکابل پوهنتون دادبياتواوبشري علومو له پوهنځې څخه فارغ شوې دی جهاني صيب زموږ دهيواد دپښتو د ادب په تاريخ کې هغه ځلانده اوغوره څيره ده،چې د ده شعرونواو اثارو زموږ پښتو ادب ښکلې،روښانه اوپياوړې ساتلې دی شعر ويل آسان کار نه دی، ځانته يوځانګړې استعداد غواړي او په دی لاره کې تلل يومشکل کار دی . خدای پاک جهاني صيب ته دغه استعداداوذوق ور په برخه کړې دی . ده د کوچينوالي څخه د مشهورو شاعرانو شعرونه لوستل او ورسره يې مينه

درلوده ، او دښوونځي په دوره کي ده خپلي شعري انګازي خپري کړي، خوهغه وخت چي پوهنتون ته راغي نو دا انګاري نوري هم پياوړي اوښېړي شوي . د ده شاعري چي يونازک اولطيف فن دی تر اوسه پوري دوام لري جهاني صيب هغه وخت چي لوړي زده کړي يي پای ته ورسولي خپل کار يي په پښتو ټولنه کي پيل کړ. په پنځه ويشت کلني کي دکابل مجلي د مسوول مدير په توګه هم دنده تر سره کړي ده ، او دوه کاله يي د پوهني په وزارت کي کار کړي دی ده دانګليسي ژبي د زده کړي لپاره دوه ځله بيروت ته سفر کړي دی . کله چي په هيواد کي حالات بدل شول، ده په ۱۹۸۱کال کي پاکستان ته کډه وکړه، هلته دوه کاله پاتي شو د امريکاغږ راديوکي يي آزموينه په بري پای ته ورسوله، اوبيا وروسته دامريکامتحده ايالاتو ته ولاړ، اوتر اوسه پوري هلته دمهاجرت شپي سبا کوي .دی دامريکا غږ راديوپه پښتو څانګه کي د ژورناليست په توګه کار کوي جهاني صيب داوسنيوشاعرانواو ليکوالانوپه منځ کي يو ځانګړی ځای او مقام لري.دی نه يوازي د پښتوادب يوپياوړی شاعر اواديب دی بلکي په نورو ژبو هم آثار لري.

ده د نړی د بيلا بيلوشاعرانو شعرونه او آثار په پښتو ژبه ژباړلي دي . د ده ادبي او فرهنګي شخصيت نړيوال شهرت او مقام لري ، دی نه يوازی په هيواد کي د ننه بلکي په بهر کي هم د ستروا‌و لوړوليکوالانواوديبانوله خوا‌ستايل شوی دی د جهاني صيب شعرونه د ولس دژونداوحالاتواصلي او واقعي تصويرونه انعکاسوي.د ده په شعرونو کي دپخواني، نن اوسبادحقيقي اوعيني ژوندانساني هيلي، جسارت، مستي، باغيتوب، عواطف اواحساسات پراته دي ، چي آوريدونکي، لوستونکي، او ليدونکي يي بې اختياره د ژور اغيز لاندي راځي او احساسات يي راپاروي د ده په شعرونو کي د واقعي عشق ، مينه او محبت ، سوز او ګداز او د طبيعت دمناظرواو ښکلا نه رانيولي تر ملي،اجتماعي،علمي، تصوفي اواخلاقي کچه پوري تصويرونه اومفاهيم نغښتي دي . دشعر هنر، دموسيقي هنر، شاعران، هنرمندان هغه فرهنګي شتمني دي، چي ديوبل سره تړاو لري . دموسيقي هنر دشعر دهنر په وسيله بشپړ، ځلانده اوتازه کيږي دجهاني صيب شعرونه يوځانګړي موسيقيت لري ،خوکله چي دده شعرونه د هنرمندانوپه خوږو اوښکلو آوازونو، طرزونو او کمپوزونو کي د راديوتلويزون له لاري دساز په ښوکي مينه والو ته وړاندي کيږي، ښکلا يي لا پسي زياتيږي د جهاني صيب شعري کلام د ده د پاک اوسپيڅلي زړه کلام دی، چي په نورو زړونو خپل اغيز لري . دی يو درونـد شاعر دی، ځانګړی قلم اوځانګړي ژبه لري . دی د نرم او لطيف مزاج اوملي احساس او د رواني طبعی شاعر دی . دی ديو ممتاز او نازکخيال شاعر په توګه د نيکو اوصافو او لوړو اخلاقو خاوند دی . دی دخپل وطن اوملت سره ځانګړي مينه لري . د ده په ذهن او روان کي ملي نظر، ملي احساس خوندي دی دی آزادي ،خپلواکي، دموکراسي،ملي عدالت او انصاف اوملي وحدت ته علاقمنددی، اوپه دی لاره کي يي د خپل سپيڅلي قلم اوخوږ کلام په وسيله ستر فعاليتونه ترسره کړي دي . دی د پښتون ، پښتونوالي او پښتو ژبي سره يوه ځانګړي مينه اوخواخوږی لري . ده د پښتو ژبي او د پښتوادب د ودي لپاره لوی خدمتونه کړي دي، چي د ده نوم او د ده ادبي هلي ځلي زموږ د پښتو ادب په تاريخ کي نه ورکيدونکي اونه هيريدونکي دي . لنډه دا چي که د جهاني صيب پر شاعری ، او ليکوالی او پښتونوالی هر څومره وغږيږو بيا هم کم دي په راتلونکي کي دښاغلي جهاني صيب سره يوځانګړي مرکه لروچي په خپل وخت کي به خپره شي

په ديردرنښت : انجنيرعبدالقادر مسعود

دجهاني صيب دشعرونو ځيني بيلګي :

# جلوه

زه رباب ته مي شهباز يي

زه نغمه يم ته مي ساز يي
زه مقام يم ته مي سور يي
زه آهنگ يم ته آواز يي
ته لمبه يي زه دي شمع
زه پتنگ ته مي پرواز يي
زه مجنون ته مي جنون يي
زه محل ته مي ممتاز يي
ته مي سر د ليونتوب يي
ته زما د جنون راز يي

هم ناظم يي هم مي نظم
ته هم سوز يي هم گداز يي
زه له كومي فنا تشتم
چي انجام ته مي آغاز يي
دا د كومي پيالي بنگ دى
چي نشي پكي مستيإي
دا د كومي نغمي شرنگ دى
چي شهباز پكي نخيږي
دا د كومي سلگې اور دى
چي لمبي پكي ويليإي
دومره پوه يمه چي ته يي
هم وجود ييهم جلوه يي

تـصـويـــر سـتـا د جـمـال زور دی

مـحـفـل سـتـا د لـمـبـې شـور دی

# غزل

په ژوند مي نصيب نه سوې جنازې ته دي درځم

د يــــــار دوصل خيا له هد يرې ته دي د رځم

يو تشـــــــه وعده يي دځوانی په بيه غواړم

سوالګرنه يـم آسمانه چي کاسي ته دي درځم

منم چي ترمــــــنز له يي سکرو تي دي کرلي

دالار په ماودانـــه د ه کوڅي ته دي د ر ځم

يو لحظه د ي مــــــــخ له رقيبا نو پټو مه

لمبي خا مو شه نه سي تما شي ته دي درځم

داستادميني اوردي چي محفل رنګينومه

پانوس رنګه بليږم بدرګي تـــه دي درځم

# محشر

شيخه مه راځه محشر دی مځکه سوځي آسمان سوځي

خم له اوره سره چوي پياله سوځي پيمان سوځي

د سکروټو محجرونه د سينو ګرداب ته لوېږي

په دوزخ کي پايکوبي ده څپه سوځي توپان سوځي

د سوما له خمه اخلي نوش په نوش وروستي جامونه

د زردشت لحد اور واخيست خرقه پوش زاهدان سوزي

مهارت د علم غواړي په محفل چي ور ګډيږي

د پخو رندانو ځای دی سست مذهب او ايمان سوځي

دا مسلک د خرابات دی په هر خم کي خرابي ده

حريفان په کي غرقيږي ساقي سوځي رندان سوزي

بد مستان دي هياهوی دی شوبې دم په دم ماتيږي

چيغي ورغلي محراب ته توبه سوځي شيخان سوځي
د مطرب ګوتي نخيري له شهبازه لمبې خاڅي
څوک تازه محفل ته راغی چي بورا ورته ځان سوزي
عقل لاره ورکه کړي د جنونو غيږې ته لوېږي
دجنونو حکم چليږي دانا سوزي نادان سوزي
جهاني لارې يې څاره هسې نه چي سره ورک شي
زمانه په زړه کړه ده قول سوزي پيمان سوزي

# غزل

د انتظار سترګي مي سرې وې ما دې لار څــــــارله
د هيلو ورځي مي تيارې وې مـــــــا دې لار څـــارله

درته خيرات مي وزرونه نذرانــــــــــه ايـــــښي وو
ستا به په کوم پانوي کې شپې وې مـــا دې لار څارله

ژبې ګونګې وې ايشارو د تورو نکـــــــــل کـــــاوه
پاتي نسکورې پيماني وې ما دې لار څـــــــــارلـــــه

کلونه تېر وو لارو نه وايه تصير د پـــــــــلونــــــــــو
هېرې د شپو څخه کيسې وې ما دې لار څـــــارلـــه

لکه يعقوب د کاروانو لارې مي سترې کــــــړلـــي
نصيب د مصر زولني وې ما دې لار څـــــــــارلـــه

زما د شهيدو ارمـــــــــانـــــونو جندې ونړېدې
ستا په مزار شناختي ويدې وې ما دې لار څــارله

د ( جهاني ) قسمت رنظور انظـــــار ورســيدی
د سترګو تور مي هديرې وې ما دي لار څـــــارله

# غـزل

د شـــمعي په څـــپر سوځو له خپل ځانه سره ځو
که وصـــل که هـــجـــران وي د جانانه ســـره ځو
د تورو په حـــساب دي ورکــــي لاري د ترږميو
منزل چاته مـــــعلوم دی د اســـــمانه سره ځو
تش نوم د ساحل اورو يـــو تصوير د بيړی وينو
په ځاځـــــکو په ګامونو له تــــــــوپانه سره ځو
سپراب يي نکړې شــــونډې سل کلونو سرابونو
له چـــــغو سره راغلو لـــــه ارمـــانه سره ځو
شبنم غونـــــډې مو لارې له ګلونو شولي ورکي
د اوښــــــکو په زولی کې له کــــرېوانه سره ځو
د غله ديدن شپبې يې لکه خوب هسي پناه شوې
په نيــــمه شپه کــــــي راغـــلو د اذانه سره ځو
تونبه مو په تندي کې د صـــنم سجدې اخيستي
احـــــــرام ترو پر لارې له مـــــغــانه ســـره ځو
زاهــــــــده په تيارو کـــي د تسپو غږونه اورم
کوثر ته دي روان کړو له شـــــيطانه سره ځــــو
قـــــاصده زما سلام دی په تــــولي د رقيبانو
مونږ داســــــــي ميلمانه يو د ميزبانه سره ځو
اغاز دی که انجام دی راز په سل پردو کي نغښتی
هــــــوښيار که لپوني يو د زندانه ســــــره ځو
د ژوند په راز پوه نه شو ( جهاني ) سبا به نه يو
يو څو بې نومه سيوري له کاروانه ســـــره ځو

نه به ته يې نه به زه يم

يوه ورځ به دا جهان وي نه به ته يې نه زه يم
هم به مځکه هم آسمان وي نه به ته يې نه به زه يم

سيپن لاسونه د ساقي به ګرځوي پيالې د مُلو
سره جمع به ياران وي نه به ته يې نه به زه يم

د پانوس لمبې به سوځي بې فرياده وزرونه
بل محفل نور به رندان وي نه به ته يې نه به زه يم

تور لښکر به د اغيارو څوک په تور د مينې وژني
بل منصور بل به ايمان وي نه به ته يې نه به زه يم

د باطل نمرود به اور وي د حق چيغې شوروي
څوک خليل به ور روان وي نه به ته يې نه به زه يم

لا چښې به په خلوت کې غلې غلې شرابونه
ريا کار به زاهدان وي نه به ته يې نه به زه يم

څوک به ناڅي څوک به خاندي څوک به مات وي تر غم لاندې
هم ساحل هم به توپان وي نه به ته يې نه به زه يم

بازارې مينې به پلورې اشارې دبورو سترګو
ګناهکار به عاشقان وي نه به ته يې نه به زه يم

له شهبازه به را اوري "جهاني" ستا غزلونه
ستا دمينې به داستان وي نه به ته يې نه به زه يم

غزل

هغه گرېوان چي د ازله د گنډلو نه و
جنون يي هم د زولنو د ټينگېدلو نه و

د ارمانونو په ساحل مي بېړۍ ډوبه شوله
بيده قسمه دا گودر د غرقېدلو نه و

چي بي خبره دي رخصت شوم له حضوره څخه
د عزرايل خاموش پيغام د اورېدلو نه و

د دار پر سر که مي ناري د انالحق وهلي
شيخه معذوز يم هغه سُر ستا د ويلو نه و

يوازي ما د خپل جانان قولونه واخيستله
دا کوه طور د فرعونانو د ليدلو نه و

زه په لمبو کي سوځېدم جلوه مي وليدله
هغه مقام د هر خامبازه د ورتللو نه و

چي "جهاني" يي د پېريو په وعده اوبيري
خواره زاهده هغه جام ستا د څېنلو نه و

دعوه

کندهار مي د بابا په قباله دی
که پنجشير دی که واخان دی وطن زما دی

هره لوېشت مي د نيکه او بابا گور دی
په هر گام باندي لحد او کفن زما دی

هر غاټول يي زما له وينو رنگ اخيستی
دا په وينو روزل سوی چمن زما دی

له نيکه راپاتي سوی په ميراث دی
دا د مشکو رباټونو خــُــتن زما دی

سرداري يي زما په پچه ده ختلي
له آمو تر مست هلمنده مامن زما دی

که تاجک دی که اوزبک دی یو افغان دی
ددې خاورې هزاره ترکمن زما دی

چې فکرونه د نفاق پالي په سر کې
امتیاز يې د وهلو کشتن زما دی

ښه يي زما دي ، بد يي زما دي هر څه زما دي
ددې خاورې ارغوان او زغن زما دی

دلته هره تیږه کاڼی بدخشان دی
دا لالونه، غرونه غرونه دمن زما دی

د ازل تقسیم باغوان یم پیدا کړی
دا بهار دا لاله زار او ګلشن زما دی

دا مورچل مورچل پکتیا او دا شپربریتي
چې فلک به کوږ ورګوري دښمن زما دی

که میرویس دی که اکبر که مسجدي دی
هره توره، هر میدان او تورزن زما دی

فتحه زما ده، فخر زما دی، جشن زما دی
شهيد زما دی د ویرژلو شیون زما دی

چې په زړه کې څه درتیږ نسي اسمانه
چې پرون مې د نیکونو و نن زما دی

# غزل

جـــانـــانـــه پـــه سجدو درته راغلئ یمه څم

ځـــو ورځي دي په غیږ کي اوسېدلئ یمه څم

د اوښکو په ګامونو اسوېلـــو در څخه ولاړم

لـــه ستـــرګـــو تر بـــانو را رسېدلئ یمه څم

تـــر اوسه مي باقي دي پر کوڅود پلونو نښي

یـــو عمـــر پـــــر دې لارو ژړېدلئ یمه څم

پیغور چي د سیالی مي د رقیب را پاته نه سي

ســل ځـــله دي ســـــکروټو ازمېیلئ یمه څم

ته ناست وې لاس تر غـاړه له رقیب سره همراز

پـــر شمـــع د مـــحفل دي کړېــــدلئ یمه څم

د عقل پـــر کوڅـــو مي کانو سر دئ پیژندلئ

پـــه ټـــول د لــــــېونو کي چي ښاغلئ یمه څم

لـــه شپـــو څخه دي ولاړم جهاني رنګه په صبر

لـــه شـــرنـــګه د نـــغمي دي پرېوتلئ یمه څم

شعر از خیام

گر باده خوری تو با خردمندان خور
یا با صنمی لاله رخ خندان خور

بسیار مخور ورد مکن فاش مساز
اندک خور و گه گاه خور و پنهان خور

ژباړونکي : عبدالباري جهاني

له هوښیارو سره نوش که د سرو میو ډک جامونه
یا ملګري که پی مخي ښایسته لکه ګلونه
نه چي وران دی له مستی سي د رندانو محفلونه
لږ یي نوش که کله کله او پټ وساته رازونه

شعر از خیام

من دامن زهد و توبه پی خواهم کرد
با موی سپید قصد ی  می خواهم کرد
پیمانه عمر من به هفتاد رسید
این دم نکنم نشاط کی خواهم کرد

ژباړونکي : عبدالباري جهاني

له توبې او له پرهیزه ور تیریږم په زړ ځله
په دا سپینو ویښتو ځمه ډکومه پیاله خپله
چي د عمر پیمانه مي بر اویا ده رسیدلی
چي دا نن لا مستي نه کړم دا مستي به کوم کله
دجهاني صیبب یو ښکلي شعر چي دی کلیپ په شکل جوړ شوي دی ، دی تاسو پاملرنه ورته راګرځوم .
دا لاندني پته وګوري

http://www.youtube.com/watch?v=TPyjQWAPJzs

**رفقا، دوستان عزیزتارنمای وطندار !  لطفاً نظرات، پیشنهادات، انتقادات، مقاله ها، نوشته ها، مضامین و مطالب**

**علمی و تحلیلی خود را جهتِ نشر به ادرس پوست الکترونیکی سایت بفرستید**

admin@vatandar.at

مدیر مسوول : دیپلوم انجنیرعمر محسن زاده

صاحب امتیاز : انجنیرنجیب یوسفی

کلیه ی حقوق بر اساس قوانین کپی رایت  محفوظ و متعلق به «وطندار» می باشد

بقیه گزیده های مقالات انجنیرعبدالقادر مسعود

http://www.vatandar.at/qadermasod